SAFE KIDS WORLDWIDE

# د موټر د څوکۍ بنسټیز خوندیتوب

ډاډه شئ چې هر سفر کې کمربند په سمه توګه وتړئ!




د ټولو هغو څیزونو چې ستاسې د موټر څوکۍ ورته اړتیا لري اړوند معلوماتو لپاره زموږ پرلیکه د موټر [د څوکۍ وروستۍ لارښود](www.safekids.org/ultimate-car-seat-guide) وکاروئ.
[www.safekids.org/ultimate-car-seat-guide](www.safekids.org/ultimate-car-seat-guide)

**ټول ماشومان باید د موټر څوکۍ، اضافي څوکۍ یا کمربند وکاروي.**


- زما ماشوم تل شاتنۍ څوکۍ کې وي او هېڅکله د هوا کڅوړو مخامخ نه وي.
- زما په موټر کې ټول هر ځل سفر کې د هر کس عمر او اندازې لپاره مناسبه څوکۍ، اضافي څوکۍ یا کمربند سره ځان تړي.
- زما د ماشوم د موټر څوکۍ خپل ټولې برخې، پېژندپاڼې او لارښوونې لري او هېڅکله ټکر نه دی کړی.
- زه د دې لپاره چې زما ماشومان په سمه او کلکه توګه تړل شوې وي خپل د موټر او د موټر د څوکۍ لارښوونې تعقیبوم.
- زما د ماشوم د موټر څوکۍ هېڅکله ټکر نه دی کړی.
- هېڅکله خپل ماشوم په موټر کې یوازې نه پرېږدم.

## له 2 ځخه لږ عمر لرونکي ماشوم د موټر مخ شاته څوکۍ کاروي



- زما ماشوم تل شاتنی څوکۍ کې وي او هېڅکله د هوا کڅوړو مخامخ نه وي.
- زما ماشوم تل د موټر هغې څوکۍ کې چې د نوموړي اندازې او عمر لپاره جوړه شوې وي سفر کوي.
- زما ماشوم خپل د موټر څوکۍ کې مخ شاته کېني.
- مهاروونکي تسمې زما ماشوم باندې کلکې دي، او اوږه کې ترل شوې تسمه کې ګوته نشم ورکولی.
- په موټر کې زما د ماشوم د موټر څوکۍ کلک ترل شوې او کله چې چېرې کمربند ترل/اینبودل شوی کش کړم له یو انچ ځخه ډېر حرکت نه کوي.
- زما ماشوم تر هغې پورې چې له تسمې ځخه ستر شي غټ د موټر مخ شاته څوکۍ کاروي. اکثره تسمې تر 35، 40 یا 45 پاونډه پورې وي.
- هېڅکله خپل ماشوم په موټر کې یوازې نه پرېږدم.


## قدم وهونکي او غټ ماشومان پورته تسمه لرونکي د موټر مخ په وړاندې څوکۍ کاروي



**که زما ماشوم له 2 ځخه ډېر عمر ولري او مخ شاته څوکۍ د وزن او لوړوالی حدود ځخه اوښتی وي:**

- زما ماشوم تل شاتنی څوکۍ کې سفر کوي.
- زما ماشوم تل د موټر هغې څوکۍ کې چې د نوموړي اندازې او عمر لپاره جوړه شوې وي سفر کوي.
- مهاروونکي تسمې زما ماشوم باندې کلکې دي، او اوږه کې ترل شوې تسمه کې ګوته نشم ورکولی.
- په موټر کې زما د ماشوم د موټر څوکۍ کلک ترل شوې او کله چې چېرې کمربند ترل/اینبودل شوی کش کړم له یو انچ ځخه ډېر حرکت نه کوي. زه پاسنۍ تسمه کاروم.
- زما ماشوم د موټر دغه څوکۍ تر هغې پورې چې تسمې ځخه ستر شي کاروي. اکثره تسمې تر 50 پاونډه یا ډېر لپاره وي.


## مشر، ستر ماشومان د موټر غېږه لرونکي اضافي څوکۍ او د څوکۍ د اوږې کمربند کاروي



**که زما ماشوم د موټر مخ په وړاندې څوکۍ د وزن او لوړوالی حدود ځخه اوښتی وي:**

- زما ماشوم تل شاتنی څوکۍ کې سفر کوي.
- زما ماشوم تل غېږه او د څوکۍ د اوږې کمربند کاروونکي اضافي څوکۍ کې سفر کوي.
- د غېږې کمربند د نوموړي یا نوموړي سرین باندې راځي، نه خېټې باندې.
- د اوږې کمربند زما د ماشوم اوږې باندې دی – نه په غاړه، د تخرګ لاندې یا شاته.
- کمربند زما ماشوم باندې ارامه، هواره او راحت دی.
- زما ماشوم کېدای شي له دې وړاندې چې کمربند له اضافي څوکۍ پرته جوړ راشي د 8-12 کلونو ترمنځ عمر ولري.

## د کمربند لپاره چمتو ماشومان



**که زما ماشوم د خوندیتوب څوکۍ ځخه ستر شوی وي:**

- زما ماشوم تل تر 13 کلنۍ پورې شاتنی څوکۍ کې سفر کوي.
- زما ماشوم تل د غېږې یا اوږې کمربند کاروي.
- د غېږې کمربند د نوموړي یا نوموړي سرین باندې راځي، نه خېټې باندې.
- د اوږې کمربند زما د ماشوم اوږې باندې دی – نه په غاړه، د تخرګ لاندې یا شاته.
- زما د ماشوم شا په کلکه توګه د موټر د سیټ شاتنۍ برخې په وړاندې دی، پښې یې د موټر د څوکۍ وړاندې څنډه کې قاتې شوې دي، او ټول سفر لپاره همداسې کېناستلی شي.
- د څوکۍ کمربند زما ماشوم باندې ارامه، هواره او راحت دی. که کمربند مناسب نه وي، زما ماشوم کولی شي اضافي څوکۍ وکاروي.

©2017 Safe Kids Worldwide